





انجينر محب الرحمن « خطيبي »



د نشرنيټه : اول مى 2017 م


# عقاب او چرګ

يو عقاب ډير لوړ الوته او د نړی له ښکلا نه يی خوند اخيست او داسی فکر يی کاوو :
« زه ډير اوچت الوځم او د طبيعت ښکلی ځايونه لکه غرونه ، سمندرونه ، سيندونه ، ځړځايونه او ځنګلونه وينم .
زه ډير څاروي او مرغان وينم . زه ښارونه او کلي وينم . او زه وينم چې خلک څه رنګ ژوند لري .
او هغه د کلي چرګ له هيڅ شي نه خبر ندی . يواځی د کور په انګړ کی څو انسانان او څاروي ويني .
زه هلته الوځم او ورته د نړی د ښکلا کيسه کووم..»

عقاب د کلي پر بام کښيناست ګوري چی چرګ خپلو چرګانو مينځ کی په ډير ميرانه ګرځي . عقاب ځان سره وويل :
« دا پدی معنا چی دی له خپل ژوند نه ډير خوشاله دی . خو په هر حال زه ورته له هغه څه چی پوهيږم کيسه کووم .»

عقاب چرګ سره خپلی خبری پيل کړی . هغه د نړی د ښکلا او ښيګڼو په هکله خبری کولی . چرګ لومړی د عقاب خبرو ته يی په ډير پاملرنی سره غوږ نيولی وو ، خو هيڅ پوه نه شو چې عقاب څه وايي او خبره په څه کی ده .

عقاب وليد چی چرګ په څه نيوهيږي خواشينی شو او نور يی چرګ سره د خبرو توان له لاسه ورکړ. او چرګ چی دعقاب په خبرو نيوهيده بی حوصيلی شو. هريو خپل له تقديراو ژوند نه خوشاله پاتی شول ....
« همداسی کله چی يو عالم سړی له بی علمه سړي سره خبری کوي يا يو روحاني او ديندراه له بی دينه سره .
روحانی او ديندراه سړی عقاب او له روحانيت نه لری سړی چرګ په شان دی .

د روحاني سړي عقل شپه او ورځ په رياضت کی د الهی له پوهی نه ډک تيريږي او خدای ته نيږدی کيږي . د بيدين عقل د دنياوي ثروتونه او نفس سره نغښتی دی .

د روحاني روح له دنيا نه خوند اخلي او د بی دين روح همداسی خالي ، تيت او پراکنده دی.

روحاني سړی لکه عقاب ډير لوړ الوځي او خپل روح سره خدای حس کوي او تولله دنيا وينی او په توره شپه کی هم د خدای په عبادت بوخت وي .
ولی ؛ له دينه لری سړی له دنياوي ثروت او عيش و نوش نه لذت وړي .او کله چی دا دواړه يو بل سره مخامخ کيږي يو بل نه ډير زر ستومانه کيږي . »

***

محب الرحمن « خطيبي »

www.said-afghani.org بازگشت به صفحه اصلی